بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اعلَم: أنّ علم الصّرف أمّ العُلوم والنحو أبوها.

# علامات الأبواب.


بِقَلَم:

مفتي خادم أحمد «سعيد» عفى عنه

د كندهار د جامعه ابراهيم «النخعي» د تخصص «د كتوراه» څخه فارغ.


په آخر كي د «الحاق» په اړه په زړه پوري معلومات

د «ارشاد الصرف» د طالبانو لپاره په زړه پورې تحفه!!!

## دکتاب لنډه پېژندنه:

- د کتاب نوم: علامات الابواب.
- د لیکوال نوم: مفتي خادم احمد «سعید» عفی عنه.
- دمخونو شمېر: څلور پنځوست «۵۴».
- کمپوزنګ: لیکوال په خپله.
- د چاپ کال: (۲۰/صفر/۱۴۴۸هق).
- د تماس شمیرې: (۰۷۴۹۹۳۰۵۵۱) او (۰۷۰۶۹۸۰۷۵۸)

- پاملرنه: دچاپ ټول حقوق د لیکوال سره محفوظ دي.

بسم الله الرّحمن الرّحيم

# ســـــريـــــزه

**دحمد او درود شريف ويلو څخه وروسته عرض دا دی! ! !**

چي په دې زمانه کي دطالبانو استعدادونه عموماً ډير کمزوري سوي دي، خصوصاً په هغه مضمونونو باندي کماحقه نه پوهيږي، کوم چي د پوهي سره تړون او تعلق لري، اودا حالت دابتداء څخه واخله بيا ترانتهايې درجوپوري جاري دي.

په دې کي څه شک نسته، چي د پوهي ،او استعداد کمزوري ده ، ليکن دصرف ،نحو او منطق ابتدايې کتابونه که په ښه پوهي سره طالبانوته په ښه شان او اندازه وریاد کړل سي، نوپه دغه نقصان کي څه کمي راتلای سي.

په ابتدائې علمونو کي د صرف، اونحو سره، دطالبانو پيژنديو څه مناسبت وي ، چي په هغه پوهيږي ، ليکن په علم صرفو کي يوه موضوع «د بابونو پيژندل» دي، په دغه موضوع طالبان ډيره ښه نه پوهيږي ، اونه هم استاذان مبارکان ودغه موضوع ته کما حقه توجه ورکوي ، لکه څونه چي مناسبه ده ، نو ما عاجزه بنده (خادم احمد «سعيد» عفی عنه) دغه ليکنه، په دي نيت وکړه ، چي که يو استاذ د «ارشادالصرف» د درسولو او سبقونو په وخت کي دغه يو څو کرښي طالبانو ته د سبقونو په طرز او طريقه ووايې نو طالبان به په بابونو ښه پوه سي او بابونه به ښه زده کړي او بابونه زده کول په علم صرف کي يو مهم کار دی، اوما په خپله هم دغه کار عملي کړی، شاګردانو ته مي

په دغه مذکوره طریقه وویل، زه خو یې ډیر په ګټه پوه سوم، اود ډیرو استاذانو سره مي دغه خبره شریکه کړه هغو هم راسره خوښه کړه .

نو ستاسو د درانه حضور څخه هیله کوم، چې تاسي هم دغه زما لیکنه په غور سره وګورئ،او که مو خوښه سوي وي دغه طریقه عملي کړئ.

اوپه آخِرکي د ټولو علماء کِرامو او طلباء عظامو ، وررنو څخه په ډیر درنښت او أدب سره خواهش او هیله کوم ،چې که زماعاجزه بنده څخه کومه لفظي یا معنوي غلطۍ سوي وي هغه هم دالله (جل جلاله) لپاره راته په ګوته کړئ.

والسلام

أخوکم في الله :مفتي خادم احمد «سعید» عفی عنه.

## دمضامينو تفصيلي فهرست:


۱. سـريـزه ........................................ ۳

۲. تـفـصـيـل: ........................................۹

۳. فـائـدة : ........................................ ۱۳

۴. خـلاصـه: ........................................ ۱۴

۵. فـائـده: ........................................ ۱۴

٦. د ثلاثي مجردو دشپږو بابونو علامې ........................................۱۵

۷. فـائـده:........................................ ۲۳

۸. د ثلاثي مزيد فيه بحث ........................................ ۲۴

۹. قـاعـدة : ........................................ ۳٦

۱۰. فـائـدة: ........................................ ۳۷

۱۱. درباعـي مجرد بحـث. ........................................ ۳۸

۱۲. درباعي مزيد فيه بحث........................................ ۳۹

۱۳. مـلـحـق بـابـونه: ........................................ ۴۲

۱۴. دالحاق اركان دري دي........................................ ۴۲

۱۵. دبابونو معنوي علامې. ........................................ ۴۸

# اجـــــمــــال(لنډيز).

باب په لغت كي ودروازې ته وايې،اود صرفيانو په اصطلاح كي، باب د الفاظو وهغه ټولی او مجموعې ته وايې چي په خپل مابين كي لفظي او معنوي مناسبت سره لري ، د مناسبت څخه مراد دادی چي دمشتق منه، يعني: مصدر ماده او معنی دباب په ټول صرف صغير كي لحاظ سوي يې.

په علم الصرف كي ټول مطلق بابونه دوه ويشت (۲۲) دي.

اما كه ملحق بابونه هم ورسره ملګري سي بيا ټول بابونه (۴۰) داني كيږي.

ځكه چي په مطلق بابونو كي شپږ(۶)بابونه د ثُلاثي مجردو دي ، او دوولس (۱۲) بابونه د ثلاثي مزيد فيه دي ، او يو (۱) باب درباعي مجرد دی ، او درې (۳) بابونه درباعي مزيدفيه دي ، دغه ټول بابونه چي سره جمعه كړې دوه ويشت (۲۲) بابونه ورڅخه جوړيږي.

اود ثُلاثي مزيدفيه ملحق بابونه بيا پر دوه قسمه دي.

اول: ملحق په رباعي مجردو پوري.

دويم: ملحق په رباعي مزيدفيه پوري.

په رباعي مجردو پوري اووه (۷) بابونه ملحق دي.

د ثُلاثي مزيد فيه هغه بابونه چي په رباعي مزيدفيه وپسې ملحق دي ، هغه بيا پر درې(۳) قسمه دي.

ملحق په باب «تَدَحرَج » پوري .

ملحق په باب «اِحرَنجَم» پوري .

ملحق په باب «اِقشَعَرّ» پوري .

ملحق په باب د «تَدَحرَج » پوري ،وه (٨) بابونه دي .

ملحق په باب د «اِحرَنجَم » پوري دوه (٢) بابونه دي.

ملحق په باب د «اقشعرّ» پوري (١) باب دی .

چي ملحق بابونه ټوله سره جمعه کړئ نو (١٨) داني کيږي ، او (٢٢) او (١٨) چي سره جمعه کړئ (٤٠) داني کيږي(١).

---

١- تنبيه: د دغه پورته تحقيق څخه معلومه سوه ،چي د ثلاثي مزيدفيه ټول بابونه، هغه که اصلي بابونه وي او که ملحق بابونه وي(٣٠) دانې دي،خو کومه خبره چي موږ وکړه،دا دجمهورو علماؤ قول دی، اما صاحب د «شافيه»علامه ابن حاجب بيا وايي:چي د ثلاثي مزيدفيه ټول بابونه،هغه که اصلي بابونه وي او که ملحق بابونه وي،(٢٥) دانې دي،چي تقسيم يې په لاندي ډول سره کوي.

لس(١٠)اصلي بابونه دي،اوپنځلس(١۵) ملحق بابونه دي،دغه ملحق بابونه بيا په خپل کور کي پر دوه قسمه دي،ملحق په رباعي مجرد پسې،ملحق په رباعي مزيدفيه پسې،په رباعي مجردو پسې (۶)بابونه ملحق دي،او ملحق په رباعي مزيدفيه پسې،بيا پر دوه قسمه دي،ملحق په « تدحرج » پسې او ملحق په « احرنجم » پسې،ملحق په « تدحرج » پسې (٧) بابونه دي،او ملحق په « احرنجم » پسې (٢) بابونه دي.

او ځيني نور علماء بيا وايي: چي د ثلاثي مزيدفيه ټول (٢٨)بابونه دي،(١٢)اصلي بابونه دي،اوهغه نور ملحق بابونه دي.


باب
ثلاثي
رباعي
مجرد
مزيد فيه
حسب
كرم
فتح
سمع
نصر
ضرب
ملحق
مطلق
بي همزه وصل
با همزه وصل
افعيعال
افعوال
افعيلال
افعلال
انفعال
استفعال
افتعال
مفاعلة
تفاعل
تفعل
تفعيل
افعال
رباعي مجرد
رباعي مزيد فيه
فعللة
فعنلة
فوعلة
فعولة
فيعلة
فعيلة
فعلاة
اقشعرّ
تدحرج
احرنجم
افوعلال
تفَعلُل
تفعنل
تفَوعُل
تفعول
تفيعل
تفعيل
تفعل
تفَعلُت
افعنلال
افعنلاء
مجرد
مزيد فيه
فعللة
با همزه وصلي
بي همزه وصلي
افعنلال
افعلّال
تفعلل

# تــفــصــيــل:

د ثلاثي مجرد مصادر (مصدرونه) دومره كثير الاوزانه دي، چي هيڅ يو وزن يې په هيڅ يو باب پوري اختصاص نلري، او په غير ثلاثي مجرد كي د مصدر د پاره يو خاص وزن دى.

نو په ثلاثي مجرد كي دمصدر په واسطه دباب تعين كول يعني: د باب پېژندل چي دا كوم باب دى دالتباس (گډوډى) دوجهې څخه، متعذره او نه كيدونكى كار دى.

او په غير ثلاثي مجردو كي د التباس (گډوډى) هيڅ محل او ځاى نسته، نو د دې وجهې څخه د ثلاثي مجردو دبابونو د پېژندلي لپاره دمصادرو په واسطه هيڅ قاعدة او قانون نسته بلكي د ثلاثي مجردو مصادر پر سَماع موقوف دي يعني: موږ چي څنگه د عربو څخه واورېده هم هغه سې به يې وايو.

مخكي مو وويل چي د ثُلاثي مجردو بابونه شپږ(۶)داني دي كه څه هم دقانون په اعتبار سره دغه بابونه بايد نه(۹) داني جوړ سوي واى.

ځكه موږ وويل چي د ثلاثي مجردو بابونه د مصادرو په واسطه نه پېژندل كيږي نو خامخا موږ به يې دماضي په عين او دمضارع په عين كلمې سره پېژنو داځكه چي په ثلاثي مجردو كي دماضي او دمضارع عين كلمه دباب په معلومه ولو كي كار كولاى سي، نه يې (فا) كلمه او نه (لام) كلمه كولاى سي.

ځکه چې د ثلاثي مجردو د ماضي معلومي د (فا) کلمه که څه هم دڅلور حالاتو تقاضا او خواهش کوي لکه فتحه ، کسره ، ضمه ، سکون ، ليکن دغه کلمه ټول وخت مفتوح (زَوَر والا) وي ، نه مضمومه (پيښ والا) او نه مکسوره (زېروالا) راتلای سي، او نه ساکن راتلای سي .

او د ثلاثي مجردو د فعل ماضي معلومه صيغه د (ف) کلمه مکسوره (زېروالا) ځکه نه سي راتلای چې کسره (زېر) په ابتداء کي راتلل، دا ډير ثقالت (درونډوالی) پر ژبه راولي ، او فعل په خپله هم پر ژبه درونډ او ثقيل دی نو بيا يو ځای والی د دوو ثقيلتينو راځي چي دغه په نيز د صرفيانو غير جائز دی.

او مضمومه (پېښوالا) ځکه نه سي را تلای چي بيا د ثلاثي مجردو د ماضي معلومي او ماضي مجهولي فرق نه سي کيدای ،او هغه د (ف) کلمې دزېر وجه دلته هم ويل کيدای سي چي بيا جمعه د ثقيلتينو راځي .

او ساکنه ځکه نه سي راتلای چي بيا ابتداء (شروع) په ساکن راځي، او ابتداء په ساکن د ټولو علماء کرامو په نيز غير جائز کار دی .

او (لام) کلمه يې ټول وخت مفتوح (زَوَر والا) وي ،ځکه هغه مبني بر فتحه ده (١)، نو د ثلاثي مجردو په ماضي کي پاته دغه يوه دعين کلمه سوه .

او د ثلاثي مجردو د مضارع (فا) کلمه ټول وخت ساکنه وي او د (لام) کلمې اعراب يې دعامل په اعتبار سره بدليږي يعني: که د نصب عامل پر داخل

١- داچي دغه د ماضي د «فا» کلمه ولي مبني ده،او ولي پر حرکت ده ،او ولي بر فتحه ده د دغه پوښتنې جواب د مراح الارواح: ٢٦ صفحه کي کتلای سی.

**سو بيا نصب ورکوي لکه** (لن يضربَ) **او که د جزم عامل پر داخل سو بيا جزم ورکوي لکه :** (لم يضربْ) **او که نه د نصب عامل پر داخل سوی و او نه د جزم عامل پر داخل سوی و.**

**بيا دا قاعدة ده چي په دغه حالت کي دفعل مضارع معلومه صيغه مضمومه ويل کيږي او عامل په کي خلوه (خاليوالی) دعامل څخه دی چي په نحو کي ودې ته عامل معنوي وايي .**

**نواوس راسئ : دماضي دعين کلمې لپاره هم درې حالته دي، او دمضارع دعين کلمې لپاره هم درې حالته دي، يعني : يابه دغه عين کلمه مفتوح (زَوَروالا) او يا مکسوره (زېروالا) او يا مضمومه (پېښوالا) وي ، درو(۳) ته ضرب په درو (۳) کي ورکه نو نه(۹) ورڅخه جوړيږي.**

**نو ځکه موږوايو چي د ثلاثي مجردو بابونه بايد دقانون په اعتبارسره نه (۹) داني وای .**

**مګر ماضي مکسور العين او مضارع مضموم العين او بالعکس يعني: ماضي مضموم العين او مضارع مکسور العين، هم دغه ډول ماضي مضموم العين او مضارع مفتوح العين دغه درې بابونه نه راځي ،يعني: دغه بابونه نه سي راتلای .**

- **فعِل يفعُل .**
- **فعُل يفعِل .**
- **فعُل يفعَل .**

نو درې (۳) بابونه چي د نو (۹) بابونو څخه حذف کړل سي، شپږ (۶) بابونه پاتيږي، دغه شپږ (۶) بابونه بيا خپل په کور کي پر دوه قسمه دي.

۱- اصول: (۱) او د پېته اختلافي بابونه او أم الابواب او أصول الابواب او دعائم الابواب هم ورته ويل کيږي، دغه درې بابونه دادي، لکه:

۱. فعَل يفعِل. لکه: ضَرَبَ يَضرِبُ.
۲. فعَل يفعُل. لکه: نَصَرَ يَنصُرُ.
۳. فعِل يفعَل. لکه: عَلِمَ يَعلَمُ.

يعني: ماضي مفتوح العين مضارع مکسور العين يا مضموم العين او ماضي مکسور العين او مضارع مفتوح العين، دغه درې بابونه ته په ثلاثي مجردو کي اصلي بابونه وايې.

۲- فروع: (۲) او د پېته اتفاقي بابونه هم وايې دا هم درې بابونه دي، لکه:

۱. فعَل يفعَل. لکه: فَتَحَ يَفتَحُ.

---

۱- د اصول الابواب تعريف: اصول الأبواب وهغه بابونو ته ويل کيږي، چي دوه قيدونه پکښي وي.

۱. د ماضي او مضارع د عين د کلمې حرکتونه يې سره مختلف وي.
۲. کثير الاستعمال وي، يعني: ډير استعماليږي.

نو په هر صيغه کي چي دغه پورته دوه شرطونه موجود او پوره وي، هغه باب د اصول الابواب څخه دی، او که دغه دوه شرطونه نه وه پکښي موجود بيا د اصول الابواب څخه نه دی.

۲- د فروع الابواب تعريف: فروع الابواب وهغه باب ته ويل کيږي چي دغه پورته مذکوره دوه قيدونه، نه وي پکښي.

۲.فعِل يفعِل .لکه : حَسِبَ يَحسِبُ.
۳. فعُل يفعُل . لکَه: شَرُفَ يَشرُفُ.

يعني: ماضي مفتوح العين مضارع هم مفتوح العين او ماضي مکسور العين مضارع هم مکسور العين او ماضي مضموم العين مضارع هم مضموم العين ، دغه درې بابونه د ثلاثي مجردو فروعي بابونه دي .

## فائدة :

د حسِب يحسِب دباب څخه يو څو خاص، صيغې راتلای سي چي مجموعه عدد يې (۱۸) اتلس دي ، نوري صيغې په کلام دعربو کي د دغه بابه څخه نسته هغه لکه :

۱. نَعِمَ معنی :هغه خوشحاله سو.
۲. وَبِقَ معنی:هغه هلاک سو.
۳. وَمِقَ معنی :هغه دوست جوړ سو.
۴. وَثِقَ معنی:هغه مذبوت سو.
۵. وَفِقَ معنی : هغه موافق سو.
٦. وَرِثَ معنی: هغه وارث سو.
۷. وَرِعَ معنی:هغه پرهېزګاره سو.
۸. وَرِمَ معنی:هغه اوپړسېدو
۹. وَرِيَ معنی: د ږبري څخه اور ووتی.
۱۰. وَلِيَ معنی: هغه نږدې سو.
۱۱. وَعِرَ معنی: هغه کينه اوساتله.
۱۲. وَحِرَ معنی: هغه سخت ناراضه سو.

۱۳. وَلِهَ معنى: هغه حيران سو.
۱۴. وَقِهَ معنى: هغه دخوشحالۍ كار وكړو.
۱۵. وَعِمَ معنى: هغه د نعمت دعاء وكړل
۱٦. وَطِئَ معنى: هغه پايمال سو.
۱۷. يَئِسَ معنى: هغه نا اميده سو.
۱۸. يَبِسَ معنى: هغه جفا وكړل.

د دغه صيغو څخه مراد دادی، چې دغه يو څو بابونه دعربو په كلام كې ستته چې هغه د فعِل يفعِل، حسِب يحسِب پر وزن راغلي دي، موږ يې تاسو ته ماضي معلومي صيغې وليكلې، نور تاسو په خپله وليكلی او وې واياست.

## خلاصه:

خلاصه دا كه ماضي مفتوح العين وه ،د مضارع په عين كلمه كې ئي درې سره حركته راتلای سي، ضمه، فتحه، كسره، لكه: دنصَر ينصُرُ باب، د ضَرَب يضرِبُ باب، او فتَح يَفتَحُ باب.

## فائده:

كه يې ماضي مفتوح العين وه ،نو مضارع يې هلته مفتوح العين راتلای سي، چې يا يې عين، يا لام كلمه، د حروف حلقيه و څخه وي،او كه چيري د حروف حلقيه و څخه نه وي بيا دغه باب نه سي راتلای مثال لكه: مَنَعَ يَمنَعُ.

او كه ماضي مكسور العين وه ، د مضارِع په عين كلمه كي ئي دوه حركته راتلاى سي ، فتحه ، كسره ، لكه : د عَلِم يَعلَمُ باب او د حسِب يَحسِبُ باب

او كه ماضي مضموم العين وه د مضارع په عين كلمه كي ئي يو حركته راتلاى سي چي هغه ضمه ده ، يعني: دماضي مضموم العين دپاره دا متعينه سوي ده چي مضارع يې نه مفتوح العين او نه مكسور العين راځي نو دمضموم العين څخه پرته بل كوم احتمال نسته.لكه :د شرُف يَشرُفُ باب .

اما كه موږ او تاسو راسو دمضارع عين كلمې ته، كه دمضارع عين كلمه مفتوح العين وه دماضي په عين كلمه يي دوه احتماله راتلاى سي،لكه :فتحه او كسره،اوكه مضارع مكسور العين وه بيا دماضي په عين كلمه يي هم دوه حركته راتلاى سي لكه: كسره او او فتحه او كه مضارع مضموم العين وه بيا يي هم دماضي په عين كلمه كي دوه احتماله راتلاى سي لكه: ضمه او فتحه.

## دثلاثي مجردو دشپږو بابونو علامې

**فائدة:** په باب كې دوه شيان ډېر مهم دي:

١. لومړى د باب علامه.
٢. او دويم د باب خاصه.

كه څه هم دا دواړه د باب له پيژندلو سره تړاو لري، خو ترمنځ يې څرګند توپير شته.

د باب علامه هغې نښې ته ويل کېږي چې د باب په ظاهري الفاظو او جوړښت کې ښکاره وي او د هماغې نښې له مخې باب پېژندل کېږي. د بېلګې په توګه، د «ضَرَبَ يَضْرِبُ» د باب علامه دا ده چې په ماضي کې عين کلمه مفتوح وي او په مضارع کې عين کلمه مکسور وي. نو د ماضي د عين کلمې فتحه او د مضارع د عين کسره د دې باب له ظاهري نښو څخه دي. همدارنګه د نورو ابوابو لپاره هم ځانګړې ظاهري نښې شته چې د هغو په وسيله بابونه له يو بل څخه پېژندل کېږي.

خو د باب خاصه بيا يو ځانګړی اثر دی چې د يوه باب له استعمال او معنا سره تړاو لري او د صرفي جوړښت تر څنګ د باب معنوي او استعمالي خصوصيت څرګندوي. د باب د خاصې موضوع نسبتاً تفصيلي بحث ته اړتيا لري، او موږ په خپل کتاب «خاصيات الأبواب» کې د بېلابېلو ابوابو د خاصياتو په اړه په تفصيل سره بحث کړی دی.

**د دا پورته تحقيق څخه دا خلاصه معلومه سوه چې د ثلاثي مجردو د دغه شپږو بابونو علامې په لاندي ډول سره دي.**

**١-د ضَرَبَ يَضْرِبُ باب: د دې باب علامة داده چې ماضي يې مفتوح العين او مضارع يې مسکور العين وي او دغه باب لازم او متعدي دواړه راتلای سي.**

**صرف صغيريې([1])دا دی:** ضَرَبَ، يَضْرِبُ، ضَرْبًا، فَهوَ ضَارِبٌ، وَضُرِبَ، يُضْرَبُ،

[1]- **قوله: (صرف) په لغت کې ګردان او تغيرته ويل کېږي، او په اصطلاح کې** (تحويل الأصل الواحد إلى أمثلة مختلفة لمعان مقصودة لا تحصل إلا بها).

**ژباړه:** «د یوه اصل (بنسټ) په بېلا بېلو مثالونو اوبښو اړول، د هغو ځانګړو معناوو د ترلاسه کولو لپاره چې پرته له دغو بڼو نه ترلاسه کېږي» په ساده ډول: یو اصل په مختلفو شکلونو بدلول، څو بېلا بېلې ځانګړې معناوې ترې ترلاسه شي.

**صرف صغیر او صرف کبیر.**

بیا صرف پر دوه قسمه دی. ۱:صرف صغیر. ۲: صرف کبیر.

په صرف صغیر کي دوه مذهبه دي. ۱: مذهب د متقدمین. ۲: مذهب د متاخرین.

**۱: دمتقدمین مذهب:** صرف صغیر پې نزد د متقدمینو هغه ته ویل کیږي چي د هر فعل د ګردان یوه صیغه د معلومي او یوه صیغه د مجهولي پکي ذکر وي. او د اسماء ګردانو یوه یوه صیغه په کي ذکر وي.

**۲: د متاخرینو مذهب:** صرف صغیر په نزد د متاخرینو هغه ته ویل کیږي چي د هر فعل د ګردان یوه صیغه د معلومي او یوه صیغه د مجهولي پکي ذکر وي. او د اسماء څخه د اسم ظرف او د اسم آله او د اسم تفضیل او د فعل تعجب ټوله ګردان پکي ذکر کوي.

افضله د متقدمینو مذهب دی. او امام الصرف والنحو حضرت مولانا نصر الله خان نورالله مرقده. هم دغه رایه ده. دا ځکه چي صرف صغیر د متقدمینو د مذهب مطابق یادول د طالب العلم لپاره ډیر اسانه دی.

**صرف کبیر:** وهغه ګردان ته وایې، چې ټولي معلومي صیغې پکښې ذکر سوي وي اویا ټولې مجهولې صیغې پکښې ذکر وي.

**سؤال:** معترض وایې، چې تا ویل چې په صرف صغیر کې یوه معلومه صیغه ذکر کېږي او یوه مجهوله، نو مصدر دي ولي دوه واره ذکر کړی دی؟

**جواب:** مصدر هم پر دوه قسمه دی.

---

۱. مصدر معلوم،معنی :(وهل کول).

۲. مصدرمجهول،معنی :(وهل کېدل).

**سؤال**: په صرف صغیر کې دغه الفاظ «فهو» «فذلک»او«منه» دڅه غرض لپاره ذکر کېږي؟

**جواب**: دربط معنوي لپاره، ګویا یو خبر ورکونکی دا خبر ورکوي،چې په پخوا زمانه کې یې سړی وهلی و،او اوس یا پس د دې څخه به یې ووهي،او دا سړی وهونکی دی،یا هغه سړی وهل کړل سوی دی،دارنګه د آخر ګردان پوري ربط ورکولای سي.

**سؤال**: د اسم فاعل سره دي «فَهُو» د اسم مفعول سره د ي فَذَاکَ» ولي ذکر کړي دي ،عکس به دي کول؟

**جواب**: د «هو»ضمیر قریب ته راجع کېږي،نوفاعل هم فعل ته قریب دی، تر مفعوله؛ځکه فعل اول د فاعل څخه صادرېږي،بیا پر مفعول واقع کېږي،او په « فذاک» سره اشاره و لږ بعید ته کېږي،نو مفعول هم لیري او بعید دی د فعل څخه تر فاعله.

**سوال**: په دغه« فهو» او« فذ ک» کې دغه فا کومه فا ده؟

**جواب**: دا فا فصیحیه ده،فا فصیحیه هغه ته ویل کېږي چې شرط یې محذوف وي،اودغه(فاء)یې په جواب کې راغلې وي،نودلته هم اصل عبارت دادی: اذا کان امر کذالک فهو ضارب.

**سؤال**: د اسم ظرف او اسم آله سره دي مذکر او مؤنث ولي نه دی ذکر کړی؟

**جواب**: په اسم ظرف او اسم آله کې تذکیر او تانیث نه راځي ،دوی د مذکر او مؤنث څخه منزه او پاک دي.

**سوال**: په الامر منه اضرب کې دغه همزه د امر ده او د امر همزه وصلي وي نو په درج د کلام کې حذف کېږي. نو دلته ولي نه دی حذف سوی؟

ضَرْبًا، فَذَاک ،مَضْرُوْبٌ، لَمْ يَضْرِبْ ،لَمْ يُضْرَبْ، لَا يَضْرِبُ، لَايُضْرَبُ، لَنْ يَّضْرِبَ، لَنْ يُّضْرَبَ، اَلْاَمْرُ مِنْهُ اِضْرِبْ، لِتُضْرَبْ، لِيَضْرِبْ، لِيُضْرَبْ، وَالنَّهىُ عَنْهُ لَا تَضْرِبْ ، لَاتُضْرَبْ، لَايَضْرِبْ، لَايُضْرَبْ، الظَرْفُ مِنْهُ: مَضْرِبٌ، والاٰلةُ منه مِضْرَبٌ، مِضْرَبَة، مِضْرَابٌ، و اَفْعَلُ التَّفْضِيْلُ الْمُذَكَّرُ مِنْهُ اَضْرَبُ والمُوْنَثُ مِنْهُ: ضُرْبٰی، وَفِعْلُ التَّعَجُّبِ مِنْهُ: مَا اَضْرَبَهُ، وَاَضْرِبْ،بِهِ وَ ضَرُبَ-

---

**جواب:** دلته د اضرب څخه مراد لفظ دی نه معنی نو بیا علم ګرځي د هغه ذات لپاره او په عَلم کي تغير نه راځي بقدر الامکان. او په اعلامو کي همزه قطعي وي، او همزه قطعي نه کتابةً او نه قراءةً حذف کيږي.

**سوال:** د دغه «منه» ضمير چا ته راجع دی.

**جواب:** د دغه «منه» ضمير وباب ته راجع دی.يعني:والامر منه ای من هذا الباب.

**فائده:** په دې خبره کې اختلاف دی،چې اصل په اشتقاق کې فعل(ضَرَبَ) دی او که اسم (مصدر،ضَرباً) دی.دلته دوه قوله دي.

- ✓ اول قول دبصرينو دی،هغه وايې:چې اصل په اشتقاق کې اسم (مصدر) دی ،فعل يې فرع دی.
- ✓ دويم قول د کوفينو دی،هغه وايې:چې اصل په اشتقاق کې فعل(ضَرَبَ) دی،اسم يې فرع دی.

د محققينو او ډېرو علماؤ په نزد راجح او معتمد قول دادی:چې اصل په اشتقاق کې،اسم (مصدر) دی،فعل يې فرع ده ،او اصل په تعليل (اعلال) کې ،فعل (ضَرَبَ) دی ،اسم يې فرع دی ، د نور تفصيل لپاره ،دصرفو نور کتابونه ،خصوصاً مراح الارواح اود هغو شروحاتو ته مراجعه وکړئ.

**فائدة:** د ثلاثي مجردو په دغو شپږو بابونو کې د هر باب له صرف صغیر وروسته د هغه باب اړوند مصادر هم ذکر کیږي. له همدې امله، هر طالب العلم ته پکار ده چې یاد شوي مصادر جلا جلا د ټول باب په ډول ګردان کړي. همدا رنګه، محترم استادان دې له دغو مصدرونو څخه جوړ شوی صرف صغیر له طالب العلم څخه وپوښتي، ترڅو د باب عملي تمرین او اجراء ښه ترسره شي او د شاګردانو ذهنونه په دې برخه کې روښانه او پیاوړي شي.

د «ضَرَبَ يَضْرِبُ» د باب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| الغسل(بریولل) | الغَلَب(غالب کیدل) | الجُلوسُ(کښینستل) |
| الحبس(بندول) | الصبر(صبر کول) | الكذب()دروغ ويل |

**۲–د نَصَرَ يَنْصُرُ باب: د دې باب علامة داده چې ماضي يې مفتوح العين او مضارع يې مضموم العين وي او دغه باب لازم او متعدي دواړه راتلای سي.**

**صرف صغیریې دا دی:** نَصَرَ، يَنْصُرُ، نَصْرًا، فَهُوَ نَاصِرٌ، وَنُصِرَ، يُنْصَرُ، نَصْرًا، فَذَاكَ مَنْصُورٌ، لَمْ يَنْصُرْ، لَمْ يُنْصَرْ، لَا يَنْصُرُ، لَا يُنْصَرُ، لَنْ يَنْصُرَ، لَنْ يُنْصَرَ، اَلْأَمْرُ مِنْهُ: اُنْصُرْ، لِتُنْصَرْ، لِيَنْصُرْ، لِيُنْصَرْ، وَالنَّهْيُ عَنْهُ: لَا تَنْصُرْ، لَا تُنْصَرْ، لَا يَنْصُرْ، لَا يُنْصَرْ، الظَّرْفُ مِنْهُ: مَنْصَرٌ، وَالْآلَةُ مِنْهُ: مِنْصَرٌ، مِنْصَرَةٌ، مِنْصَارٌ، وَأَفْعَلُ التَّفْضِيلِ الْمُذَكَّرُ مِنْهُ: أَنْصَرُ، وَالْمُؤَنَّثُ مِنْهُ: نُصْرَى، وَفِعْلُ التَّعَجُّبِ مِنْهُ: مَا أَنْصَرَهُ، وَأَنْصِرْ بِهِ، وَنَصُرَ.

د «نَصَرَ يَنْصُرُ» د باب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| الطلب(طلب کول) | الدخول(داخلیدل) | الخروج(وتل) |
| القتل(وژل) | الخلود(همیشه اوسیدل) | الشکور(شکر کول) |

**۳-د عَلِمَ يَعْلَمُ باب : د د ې باب علامة داده چي ماضي يې مكسور العين او مضارع يې مفتوح العين وي او دغه باب لازم او متعدي دواړه راتلای سي.**

**صرف صغيري دا دی:** عَلِمَ، يَعْلَمُ، عِلْمًا، فَهُوَ عَالِمٌ، وَعُلِمَ، يُعْلَمُ، عِلْمًا، فَذَاكَ مَعْلُومٌ، لَمْ يَعْلَمْ، لَمْ يُعْلَمْ، لَا يَعْلَمُ، لَا يُعْلَمُ، لَنْ يَعْلَمَ، لَنْ يُعْلَمَ، اَلْأَمْرُ مِنْهُ: اِعْلَمْ، لِتُعْلَمْ، لِيَعْلَمْ، لِيُعْلَمْ، وَالنَّهْيُ عَنْهُ: لَا تَعْلَمْ، لَا تُعْلَمْ، لَا يَعْلَمْ، لَا يُعْلَمْ، الظَّرْفُ مِنْهُ: مَعْلَمٌ، وَالْآلَةُ مِنْهُ: مِعْلَمٌ، مِعْلَمَةٌ، مِعْلَامٌ، وَأَفْعَلُ التَّفْضِيلِ الْمُذَكَّرُ مِنْهُ: أَعْلَمُ، وَالْمُؤَنَّثُ مِنْهُ: عُلْمَى، وَفِعْلُ التَّعَجُّبِ مِنْهُ: مَا أَعْلَمَهُ، وَأَعْلِمْ بِهِ، وَعَلُمَ.

**د «عَلِمَ يَعْلَمُ» د باب نور مصدرونه.**

| | | |
|---|---|---|
| السمع(اورېدل) | الفقه(پوه كول) | الفهم(فهمول) |
| الحمد(حمدويل) | الشهود(حاضرېدل) | الشرب(چښل) |

**۴-د فَتَحَ يَفْتَحُ باب: د د ې باب علامة داده چي ماضي يې مفتوح العين او مضارع يې هم مفتوح العين وي او دغه باب لازم او متعدي دواړه راتلای سي.**

**صرف صغيري دا دی:** فَتَحَ، يَفْتَحُ، فَتْحًا، فَهُوَ فَاتِحٌ، وَفُتِحَ، يُفْتَحُ، فَتْحًا، فَذَاكَ مَفْتُوحٌ، لَمْ يَفْتَحْ، لَمْ يُفْتَحْ، لَا يَفْتَحُ، لَا يُفْتَحُ، لَنْ يَفْتَحَ، لَنْ يُفْتَحَ، اَلْأَمْرُ مِنْهُ: اِفْتَحْ، لِتُفْتَحْ، لِيَفْتَحْ، لِيُفْتَحْ، وَالنَّهْيُ عَنْهُ: لَا تَفْتَحْ، لَا تُفْتَحْ، لَا يَفْتَحْ، لَا يُفْتَحْ، الظَّرْفُ مِنْهُ: مَفْتَحٌ، وَالْآلَةُ مِنْهُ: مِفْتَحٌ، مِفْتَحَةٌ، مِفْتَاحٌ، وَأَفْعَلُ التَّفْضِيلِ الْمُذَكَّرُ مِنْهُ: أَفْتَحُ، وَالْمُؤَنَّثُ مِنْهُ: فُتْحَى، وَفِعْلُ التَّعَجُّبِ مِنْهُ: مَا أَفْتَحَهُ، وَأَفْتِحْ بِهِ، وَفَتُحَ.

**د «فَتَحَ يَفْتَحُ» د باب نور مصدرونه.**

| | | |
|---|---|---|
| المنع(منع كول) | الرهن(ګروي كول) | الخشوع(عاجزي كول) |
| المدح(صفت كول) | الرفع(پورته كول) | السلح(دپوسته كښل) |

**۵-د حَسِبَ يَحْسِبُ باب: د د ې باب علامة داده چې ماضي يې مكسور العين او مضارع يې هم مكسور العين وي او دغه باب لازم او متعدي دواړه راتلای سي.**

**صرف صغيرېي دا دی:** حَسِبَ، يَحْسِبُ، حِسْبَانًا، فَهُوَ حَاسِبٌ، وَحُسِبَ، يُحْسَبُ، حِسْبَانًا، فَذَاكَ مَحْسُوبٌ، لَمْ يَحْسِبْ، لَمْ يُحْسَبْ، لَا يَحْسِبُ، لَا يُحْسَبُ، لَنْ يَحْسِبَ، لَنْ يُحْسَبَ، اَلْأَمْرُ مِنْهُ: اِحْسِبْ، لِتُحْسَبْ، لِيَحْسِبْ، لِيُحْسَبْ، وَالنَّهْيُ عَنْهُ: لَا تَحْسِبْ، لَا تُحْسَبْ، لَا يَحْسِبْ، لَا يُحْسَبْ، الظَّرْفُ مِنْهُ: مَحْسِبٌ، وَالْآلَةُ مِنْهُ: مِحْسَبٌ، مِحْسَبَةٌ، مِحْسَابٌ، وَأَفْعَلُ التَّفْضِيلِ الْمُذَكَّرُ مِنْهُ: أَحْسَبُ، وَالْمُؤَنَّثُ مِنْهُ: حُسْبَى، وَفِعْلُ التَّعَجُّبِ مِنْهُ: مَا أَحْسَبَهُ، وَأَحْسِبْ بِهِ، وَحَسُبَ.

**فائدة: د دغه باب د صحيح څخه نور مصدرونه نسته، ليكن د مثال څخه دغه باب نور مصدرونه لري هغه موږ مخكي ذكر كړل، هلته يې وګورئ.**

**۶-د شَرُفَ يَشْرُفُ باب: د د ې باب علامة داده چې ماضي يې مضموم العين او مضارع يې هم مضموم العين وي او دغه باب همېشه لازم وي متعدي نه سي راتلای سي.**

**صرف صغيرېي دا دی:** شَرُفَ، يَشْرُفُ، شَرَفًا، فَهُوَ شَرِيفٌ، لَمْ يَشْرُفْ، لَا يَشْرُفُ، لَنْ يَشْرُفَ، اَلْأَمْرُ مِنْهُ: اُشْرُفْ، لِيَشْرُفْ، وَالنَّهْيُ عَنْهُ: لَا تَشْرُفْ، لَا يَشْرُفْ، الظَّرْفُ مِنْهُ: مَشْرَفٌ، وَالْآلَةُ مِنْهُ: مِشْرَفٌ، مِشْرَفَةٌ، مِشْرَافٌ، وَأَفْعَلُ التَّفْضِيلِ الْمُذَكَّرُ مِنْهُ: أَشْرَفُ، وَالْمُؤَنَّثُ مِنْهُ: شُرْفَى.

**فائدة:** دغه د «شرُف يشرُف» باب چونكي لازم دی، اودا قانون دی، چي دلازم باب څخه مجهول صيغې او د اسم مفعول صيغې نه استعماليږي.

**فائدة:** په صرفو کې د فعل لازم د متعدي ګرځولو مشهورې لارې عموماً درې دي:

١. د همزې په زياتولو سره (باب إفعال): لکه: خَرَجَ زَيْدٌ (زيد ووت) أَخْرَجْتُ زَيْدًا (ما زيد وايست)
٢. د عين الفعل په تشديد سره (باب تفعيل): لکه: فَرِحَ زَيْدٌ (زيد خوشحاله شو)
فَرَّحْتُ زَيْدًا (ما زيد خوشحاله کړ)
٣. د حرفِ جر په وسيله: لکه: مَرَرْتُ بِزَيْدٍ (زه پر زيد تېر شوم) دلته باء د تعديې وسيله ده .
٤. لنډه قاعده: فعل لازم په همزه، تشديد او د حرفِ جر په وسيله متعدي کېدای شي.

د «شَرُفَ يَشْرُفُ» د باب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| القرب (نژدې کول) | البعد (لېري کېدل) | الکثرة (زياتېدل) |
| اللطف (نرمېدل) | الصلاح (جوړېدل) | الصغار (خوارېدل) |

## فـــائـــده:

په ثُلاثي مجردو کي، اولويّت د کوم باب خاصيّت نه دی، بلکي کوم باب چي په صحيح کي زيات مستعمل وي، هغه باب ته په صحيح کي په اول

باب سره ويل کيږي او کوم باب چي په مثال کي زيات مستعمل وي هغه باب ته، هلته په مثال کي په اول باب سره ويل کيږي، همداسي نور ، البته په دې موضوع کي نوري خبري هم سته خو ليکن ، موږ د کشرانو طالبانو لپاره دلته ذکر نه کړې، که مو نور تحقيق ته ضرورت وي، د «زنجاني» او «مراح الارواح» حاشيې وګورئ!!!.

دليکوال دزړه حال:

ګوتې قـــــلم ته پــــه ژړا سوي= ته به، باقي يې موږ به توري خاوري خورينه

# دثلاثي مزيد فيه بحث

اوس راځو د ثلاثي مزيد فيه د بابونو بحث ته ،مخکي مو وويل چي د ثُلاثي مزيد فيه بابونه (١٢) داني دي ، دغه بابونه بيا خپل په کور کي پر دوه قسمه دي.

اول: چي همزه وصليه يې دباب په سر کي وي.

دويم : چي همزه يې وصليه يې دباب په سر کي نه وي .

دثُلاثي مزيد فيه هغه بابونه چي همزه وصـليه يې دباب په سـر کي وي ، هغه اووه (٧) بابونه دي .

١. اِفتعال مثال لکه: اَلاِکتِسَابُ: په کوشش سره حاصلول.

د دې باب علامه دا ده : چي د دې باب ماضـي، پنځه حروف لري ، درې اصلي او دوه زائد وي ، يعني:

- د ماضي او امر په شروع کي يې همزه وصلي وي .

- اود "فا" او "عين" کلمې په مابين کي يې په ټوله باب کي "تا" زائده وي .

دا باب لازم او متعدي دواړه راځي .

صرف صغيرېي دا دی : اِجْتَنَبَ يَجْتَنِبُ اِجْتِنَابًا فهو مُجْتَنِبٌ واُجْتُنِبَ يُجْتَنَبُ اِجْتِنَابًا فذاک مُجْتَنَبٌ لَمْ يَجْتَنِبْ لَمْ يُجْتَنَبْ لَا يَجْتَنِبُ لَا يُجْتَنَبُ لَنْ يَجْتَنِبَ لَنْ يُجْتَنَبَ الامرمنه اِجْتَنِبْ لِتُجْتَنَبْ لِيَجْتَنِبْ لِيُجْتَنَبْ والنهى عنه لَاتَجْتَنِبْ لَا تُجْتَنَبْ لَايَجْتَنِبْ لَا يُجْتَنَبْ الظرف منه مُجْتَنَبٌ،مجتنبان مجتنبات.

تنبيه: محترم استاذان دي دخپلو شاګردانو څخه دهر باب د ويلو څخه وروسته ، دهغه باب صرف صغير، په مختلفو صيغوکي په ليکنه بڼه، وغواړي، د دې لپاره چي طالبان ښه پوه سي ، او سريې په خلاص سي مثلاً :لاندي په جدول کي صيغې ليکل سوي دي

استاذان دي شاګردانو ته ووايې چي سبا د دغه صيغو صرف صغير يا ماضي معلومه يا مجهوله يا بل ګردان مثلاً، پر کاغذ وليکئ ، او راوړئ .

د «افتعال» دباب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| الاجتناب(پرهېزکول) | الاجتماع(سر جمع کېدل) | الاعتدال(برابرېدل) |
| الافتتاح(خلاصول) | الاستماع(اورېدل) | الاقتصاد(ميانه روي کول) |

۲. اِستفعال مثال لکه: اَلاِستخراج .دوتلو طلب کول

د دې باب علامه داده: چي د دې باب په ماضي کي شپږ حروف وي ، درې اصلي او درې زائد وي يعني:

- د ماضي او امر حاضر په شروع کي يې همزه وصلي وي.
- او د " فا "کلمې څخه مخکي يې همېشه "سين" او " تا "زائده وي.

**صرف صغير يې دادی**: اِسْتَخْرَجَ يَسْتَخْرِجُ اِسْتِخْرَاجًا فَهُوَ مُسْتَخْرِجٌ، وَاُسْتُخْرِجَ يُسْتَخْرَجُ اِسْتِخْرَاجًا فَذَاكَ مُسْتَخْرَجٌ، لَمْ يَسْتَخْرِجْ لَمْ يُسْتَخْرَجْ، لَا يَسْتَخْرِجُ لَا يُسْتَخْرَجُ، لَنْ يَسْتَخْرِجَ لَنْ يُسْتَخْرَجَ، الأمر منه اِسْتَخْرِجْ،لتستخرج، لِيَسْتَخْرِجْ، لِيُسْتَخْرَجْ، والنهي عنه لَا تَسْتَخْرِجْ، لَا تُسْتَخْرَجْ لَا يَسْتَخْرِجْ، لَا يُسْتَخْرَجْ، والظرف منه مُسْتَخْرَجٌ، مُسْتَخْرَجَانِ، مُسْتَخْرَجَاتٌ.

د «استفعال» د باب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| الاستغفار(بخښنه غوښتل) | الاستمتاع(ګټه اخيستل) | الاستخلاف(نائب درول) |
| الاستحكام(محکم کېدل) | الاستفهام(دپوه کېدلو طلب کول) | الاستکبار(غرور کول) |

**٣. اِنفعال مثال لکه** : الانصراف.**راګرځېدل.**

**د دې باب علامه داده :چي د دې باب په ماضي کي پنځه حروف وي ، درې اصلي او دوه زائده وي ، يعني:**

- د ماضي او امر حاضر په شروع کي يې همزه وصلي وي .
- او د "فا " کلمې څخه مخکي يې همېشه "نون " زائده وي.

**فائدة** :دغه باب او دوه راتلونکي بابونه لازم دی ،متعدي هيڅ وخت نه استعماليږي، ددغه بابونو ماضي مجهوله او مضارع مجهوله او اسم

**مفعول مستعمل نه دي، که په کوم کتاب یا ځای کي لیکل سوي وي، هغه دشاګردانو داسانتیا لپاره دي.**

**صرف صغیر یې دادی:** اِنْفَطَرَ یَنْفَطِرُ اِنْفِطَارًا فَهُوَ مُنْفَطِرٌ، لَمْ یَنْفَطِرْ لَا یَنْفَطِرُ، لَنْ یَنْفَطِرَ، الْأَمْرُ مِنْهُ اِنْفَطِرْ، لِیَنْفَطِرْ، وَالنَّهْیُ عَنْهُ لَا تَنْفَطِرْ.

**د «انفعال» دباب نور مصدرونه.**

| | | |
|---|---|---|
| الانکشاف(ښکاره کول) | الانفراد(یوازي کېدل) | الانشراح(خلاصول) |
| الانبساط(خوشحاله کېدل) | الانفطام(دماشوم شېدې پرېښودل) | الانفجار(بهېدل) |

**۴. اِفعِلال مثال لکه:** اَلاِحمِرَارُ: **په سره رنګ کېدل.**

**د دې باب علامه داده: چې د دې باب په ماضي کي پنځه حروف وي، درې حروف اصلي وي او دوه حروف زائد وي یعني:**

- **د ماضي او امر حاضر په شروع کي یې همزه وصلي وي.**
- **او "لام" کلمه یې په توله باب کي مکرره وي.**

**صرف صغیر یې دادی:** اِحْمَرَّ یَحْمَرُّ اِحْمِرَارًا فَهُوَ مُحْمَرٌّ، لَمْ یَحْمَرَّ لَا یَحْمَرُّ لَنْ یَحْمَرَّ الْأَمْرُ مِنْهُ اِحْمَرَّ، لِیَحْمَرَّ، وَالنَّهْیُ عَنْهُ لَا تَحْمَرَّ.

**فائده: هغه مضارع چې د هغه وروستی حرف مشدد وي، بیا که د دغه مضارع عین کلمه مضموم وي، نو د حروفِ جوازم د داخلېدو او د امر حاضر د جوړېدو پر مهال په هغه کې څلور طریقې ویل جائزې دي؛ لکه د** «یَمُدُّ» **څخه:** لَمْ یَمُدَّ، لَمْ یَمُدِّ، لَمْ یَمُدُّ، لَمْ یَمْدُدْ.

**او که د مضارع عین کلمه یي مضموم نه وي، نو بیا په دریو طریقو ویل جائز دي؛ لکه د «يَحْمَرُّ» څخه:** لَمْ يَحْمَرَّلَمْ يَحْمَرِّ، لَمْ يَحْمَرِرْ.

**څرنګه چې دغه باب د دغه دویم قسم د بابونو له ډلې څخه دی، نو دلته هم درې طریقې ویل جائزې دي.**

**د «افعلال» د باب نور مصدرونه.**

| | | |
|---|---|---|
| الاخضرار (شین کېدل) | الابيضاض (سپین کېدل) | الاسوداد (توریدل) |

**سؤال: کوم وخت چې په دې باب کې دوه (۲) لامونه دي، نو معلومه سوه چې دا باب رباعي دی، ځکه چې دغه دوه لامونه خو، د رباعي علامه ده، نه د ثُلاثي مزید فیه.**

**جواب: دوه لامونه د رباعي علامه هغه وخت ده، چې دغه دواړه لامونه د اصلي کلمې څخه وي، دلته په دې باب کې دوهم لام زائد دی، ځکه د "احمرار" وزن په اصل کې "افعِلار"و، مګر د حروف زائده د اول قسم د حکم په اساس یې وزن افعلال راوستل سو، ځکه چې زائده راء د خپل ماقبل د جنس څخه ده.**

**۵. افعیلال مثال لکه: اَلاِحمِیرَار: د مبالغې لپاره دی، زیات په سره رنګ کېدل.**

**د دې باب علامه دا ده: چې د دې باب په ماضي کې شپږ حروف وي درې حروف اصلي او درې حروف زائد وي یعني:**

- **د ماضی او امر حاضر په شروع کی یې همزه وصلي وي.**

- او دعين او لام کلمې په مابين کې يې الف زائده وي ماسوا د مصدر او ماضي مجهول څخه، ځکه چې په مجهول کې دغه الف په «واو» بدل سوی دی.
- او لام کلمه يې همېشه مکرره وي، ماسوا د امر، نهي او، جحد څخه، ځکه په هغو کې درې وجهې ويل جائزدي، په قانون د «لم يحمرّ لم يحمرّ لم يحمرِ لم يحمرر» سره.

**صرف صغير يې دادی:** اِدْهَامَّ يَدْهَامُّ اِدْهِيْمَامًا فَهُوَ مُدْهَامٌّ،لَمْ يَدْهَامَّ لَا يَدْهَامُّ لَنْ يَدْهَامَّ الْأَمْرُ مِنْهُ اِدْهَامَّ اِدْهَامِّ اِدْهَامِمْ،وَالنَّهْيُ عَنْهُ لَاتَدْهَامَّ لَاتَدْهَامِّ لَاتَدْهَامِمْ.

**تنبيه:** هغه پورته سؤال پر دغه باب باندې هم وارديږي، جواب يې هغه رکم دی، لکه مخکې چې تير سو.

د «افعيلال» دباب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| الادهيمام(تېزتورېدل) | الاسميرار(غنم رنګ کېدل) | الاکميتات(توراوسورکېدل) |

٦. اِفعيعال مثال لکه: الِاحدِيدَاب، دمبالغې دپاره دی يعني: پر ملاډير کروپ کيدل.

د دې باب علامه داده: چې د دې باب په ماضي کې شپږ حروف وي درې اصلي او درې زائدوي يعني:

- ده ماضي او امرحاضر په شروع کې يې همزه وصلي وي.
- او "عين" کلمه يې مکرره وي.

- او تر "عين" کلمې وروسته يې "واو" وي ماسوا د مصدر څخه، ځکه چې په مصدر کې دغه واو په «يا» بدلېږي.

او دا باب هم اکثره وخت لازم مستعملېږي.

صرف صغير يې دا دی: اِخْشَوْشَنَ يَخْشَوْشِنُ اِخْشِيْشَانًا فَهُوَ مُخْشَوْشِنٌ، وَاُخْشُوشِنَ يُخْشَوْشَنُ اِخْشِيْشَانًا فَذَاکَ مُخْشَوْشَنٌ، لَمْ يَخْشَوْشِنْ لَمْ يُخْشَوْشَنْ، لَا يَخْشَوْشِنُ لَا يُخْشَوْشَنُ، لَنْ يَخْشَوْشِنَ لَنْ يُخْشَوْشَنَ، الْأَمْرُ مِنْهُ اِخْشَوْشِنْ، لِتخشوشن ،لِيَخْشَوْشِنْ، لِيُخْشَوْشَنْ، وَالنَّهْيُ عَنْهُ لَا تَخْشَوْشِنْ، لَا تُخْشَوْشَنْ لَا يَخْشَوْشِنْ، لَا يُخْشَوْشَنْ، وَالظَّرْفُ مِنْهُ مُخْشَوْشَنٌ، مُخْشَوْشَنَانِ، مُخْشَوْشَنَاتٌ.

د «افعيعال» د باب نور مصدرونه.

| الاحديداب (پرملا کېدل) | الاخريراق (د کالو څېرېدل) | الاخليلاق (د کالو زړېدل) |
|---|---|---|

۷. اِفعوّال مثال لکه: الاِجلِوّاذ د مبالغې د پاره دی يعني: ډېر تېز ځغستل.

د دې باب علامه دا ده: چې د دې باب ماضي شپږ حرفيزه وي، درې حروف اصلي او درې حروف زائد وي يعني:

- ده ماضي او امر حاضر په شروع کې يې همزه وصلي وي.
- او تر "عين" کلمې وروسته يې په ټوله باب کې "واو" مشدد وي.

او دا باب ډېر وخت لازم راځي، او متعدي يې ډېر کم استعمالېږي ، او په قرآن کريم کې هيڅ کله نه استعمالېږي.

صرف صغير يې دا دی: اِجْلَوَّذَ يَجْلَوِّذُ اِجلِوَّاذًا فَهُوَ مُجْلَوِّذٌ، وَاُجْلُوِّذَ يُجْلَوَّذُ اِجلِوَّاذًا فَذَاکَ مُجْلَوَّذٌ، لَمْ يَجْلَوِّذْ لَمْ يُجْلَوَّذْ، لَا يَجْلَوِّذُ لَا يُجْلَوَّذُ، لَنْ يَجْلَوِّذَ لَنْ يُجْلَوَّذَ، الْأَمْرُ مِنْهُ

اِجْلَوِّذْ،لتجلوذ لِيَجْلَوِّذْ، لِيُجْلَوَّذْ، وَالنَّهْیُ عَنْهُ لَا تَجْلَوِّذْ، لَا تُجْلَوَّذْ لَا يَجْلَوِّذْ، لَا يُجْلَوَّذْ، وَالظَّرْفُ مِنْهُ مُجْلَوَّذٌ، مُجْلَوَّذَانِ، مُجْلَوَّذَاتٌ.

د «افعوّال» دباب نور مصدرونه.

| | |
|---|---|
| الاعلوّاط(داوښ پرغاړه په ځړېدلو اوښ ته ختل) | الاخروّاط(دسفر دلاري اوږدېدل) |

او ثُلاثي مزيد فيه هغه بابونه چي همزه وصليه يې دباب په سر کي نه وي ، هغه پنځه (۵) بابونه دي.

۱. اِفعال مثال لكه: الاِکرام . وېل ته عزت ورکول.

د دې باب علامه داده: چي د دې باب ماضي څلور حروف لري درې اصلي او یو زائد دی یعني:

- دماضي ،امر حاضر او مصدر په شروع کي یې همزه قطعي زائد وي.
- او په فعل مضارع کي به یې حروف اتين مضموم وي.

تنبيه: داِفعال دباب په ماضي او امر کي، که څه هم همزه راغلی دی، خو دغه همزه وصليه نه دی، بلکي قطعيه دی، او زموږ خبره په همزه وصلي کي شروع ده .

دغه باب هم هميشه متعدي مستعمليږي.

صرف صغير يې دادی: أَكْرَمَ يُكْرِمُ إِكْرَامًا فَهُوَ مُكْرِمٌ، وَأُكْرِمَ يُكْرَمُ إِكْرَامًا فَذَاكَ مُكْرَمٌ، لَمْ يُكْرِمْ لَمْ يُكْرَمْ، لَا يُكْرِمُ لَا يُكْرَمُ، لَنْ يُكْرِمَ لَنْ يُكْرَمَ، الْأَمْرُ مِنْهُ أَكْرِمْ،لِتُكرم لِيُكْرِمْ، لِيُكْرَمْ، وَالنَّهْيُ عَنْهُ لَا تُكْرِمْ، لَا تُكْرَمْ لَا يُكْرِمْ، لَا يُكْرَمْ، وَالظَّرْفُ مِنْهُ مُكْرَمٌ، مُكْرَمَانِ، مُكْرَمَاتٌ.

**فائدة:** د «أَفْعَالَ» د باب همزه قطعي ده؛ یعنې په مابین د کلام کې نه حذف کېږي. خو کله چې د مضارع په واحد متکلم صیغه کې دوې همزې سره یوځای سوې، نو د ثقالت له امله یوه همزه حذف شوه. د مضارع په پاتې صیغو کې هم طرداً، یعنې د همدې صیغې د موافقت له کبله، هغه همزه حذف شوه.

خو کله چې په امر حاضر کې د حرفِ مضارعت له حذف کېدو وروسته د همزې راوړلو اړتیا پیښه شوه، نو هغه حذف شوې همزه بېرته راوړل شوه. له همدې امله، په دې باب کې د امر حاضر په پیل کې همزه قطعه ده، ځکه دا هغه د ماضي همزه ده.

**فائده** :د ثلاثي مجردو له بابونو څخه پرته، نور بابونه د اسمِ آلې او اسمِ تفضیل لپاره ځانګړې صیغې نه لري، او اسمِ ظرف یې د هماغه باب د اسمِ مفعول پر وزن راځي.

د «افعال» د باب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| الاسلام(اطاعت) | الاذهاب(بېول) | الاقبال(مخ اړول) |
| الاعلان(ښکاره کول) | الاخراج(ایستل) | الارسال(لېږل) |

**۲. تفعیلٌ مثال لکه:** التَصرِیفُ – ګرځول.

د دې باب علامه داده: چې د دې باب ماضي څلور حروف لري درې اصلي او یو زائد وي ، یعنې:

- «عین» کلمه یې مشدد (مکرر) وي. ماسیوا د مصدر څخه ځکه په مصدر کې یې دوه حروف زائد وي.

- په اول کي «تـا» اود عين او لام کلمې په مابين کي يې «يا» زائد وي.
- اود دې باب بله علامه داده چي په مضارع کي يې حروف اتين(أ،ت،ی،ن) مضموم (پيښوالا) وي.

**صرف صغير يې دادی:** صَرَّفَ يُصَرِّفُ تَصْرِيفًا فَهُوَ مُصَرِّفٌ، وَصُرِّفَ يُصَرَّفُ تَصْرِيفًا فَذَاكَ مُصَرَّفٌ، لَمْ يُصَرِّفْ لَمْ يُصَرَّفْ، لَا يُصَرِّفُ لَا يُصَرَّفُ، لَنْ يُصَرِّفَ لَنْ يُصَرَّفَ، الْأَمْرُ مِنْهُ صَرِّفْ،لِتُصرّف، لِيُصَرِّفْ، لِيُصَرَّفْ، وَالنَّهْىُ عَنْهُ لَا تُصَرِّفْ، لَا تُصَرَّفْ لَا يُصَرِّفْ، لَا يُصَرَّفْ، وَالظَّرْفُ مِنْهُ مُصَرَّفٌ، مُصَرَّفَانِ، مُصَرَّفَاتٌ.

**د «تفعيل» دباب نور مصدرونه.**

| | | |
|---|---|---|
| التعظيم(عزت کول) | التبليغ(رسول) | التعليم(ښوونه کول) |
| التسليم(سلام کول) | التسبيح(پاکي بيانول) | التركيب(يوځای کول) |

**۳. تفعّلٌ مثال لکه:** اَلتّصَرُّفُ: **راګرځېدل.**

**د دې باب علامه داده: چي د دې باب په ماضي کي پنځه حروف وي ، درې اصلي او دوه زائد وي يعني:**

- د ټوله باب په شروع کي يې «تا» زائده وي .
- اوعين کلمه يې مکرره (مشدد) وي.

**فائده:** د دې باب مصدر اکثر وخت د تَفَعّل پر وزن راځي ، خو کله کله د تِفعالٌ پر وزن هم راځي.

**صرف صغير يې دادی:** تَقَبَّـلَ يَتَقَبَّـلُ تَقَبُّلًا فَهُوَ مُتَقَبِّلٌ، وَتُقُبِّلَ يُتَقَبَّلُ تَقَبُّلًا فَذاک مُتَقَبَّلٌ، لَمْ يَتَقَبَّلْ لَمْ يُتَقَبَّلْ، لَا يَتَقَبَّلُ لَا يُتَقَبَّلُ، لَنْ يَتَقَبَّلَ لَنْ يُتَقَبَّلَ، الْأَمْرُ مِنْـهُ تَقَبَّـلْ، لتُتقبل،لِيَتَقَبَّلْ، لِيُتَقَبَّلْ، وَالنَّهْىُ عَنْهُ لَا تَتَقَبَّلْ، لَا تُتَقَبَّلْ لَا يَتَقَبَّلْ، لَا يُتَقَبَّلْ، وَالظَّرْفُ مِنْهُ مُتَقَبَّلٌ، مُتَقَبَّلَانِ، مُتَقَبَّلَاتٌ.

**د «تفعُّل» دباب نور مصدرونه.**

| | | |
|---|---|---|
| التبسّم(تبسم کول) | التفکّه(میوه خوړل) | التقرّب(نژدې کېدل) |
| التلبّث(ځنډکول) | التقدّس(پاک کول) | التعجّل(تلوارکول) |

**۴. مفاعلةٌ مثال لکه:** اَلمَضَارَبَةُ: **يعنى: يو دبله سره وهل.**

**د دې باب علامه داده :چې د دې باب ماضي څلور حروف لري ، درې اصلي او يو زائد وي يعني:**

- **د "فا" او "عين" کلمې په مابين کې يې په ټوله باب کې الف زائد وي ، ماسوا دماضي مجهوله څخه،ځکه هلته دغه الف په ياء بدلیږي.**
- **اود دې باب بله علامه داده چې په مضارع کې يې حروف اتين(أ،ت،ی،ن) مضموم (پیښوالا ) وي.**

**فائدة: د دې باب مصدرونه کله کله د فِعال او فيعال پر وزن هم راځي، لکه: «جِهادٌ» او «جِيهالٌ».**

**صرف صغير يې دادی:** قَاتَلَ يُقَاتِلُ مُقَاتَلَةً فَهُوَ مُقَاتِلٌ، وَقُوتِلَ يُقَاتَلُ مُقَاتَلَةً فَـذَاک مُقَـاتَـلٌ، لَمْ يُقَاتِلْ لَمْ يُقَاتَلْ، لَا يُقَاتِلُ لَا يُقَاتَلُ، لَنْ يُقَاتِلَ لَنْ يُقَاتَلَ، الْأَمْرُ

مِنْـهُ قَـاتِـلْ،لتقـاتـل، لِيُقَاتِلْ، لِيُقَاتَلْ، وَالنَّهْىُ عَنْهُ لَا تُقَاتِلْ، لَا تُقَاتَلْ لَا يُقَاتِلْ، لَا يُقَاتَلْ، وَالظَّرْفُ مِنْهُ مُقَاتَلٌ، مُقَاتَلَانِ، مُقَاتَلَاتٌ.

## د «مفاعلة» دباب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| المسابقة(يوتربل مخته كېدل) | المذاكرة(خپل مينځي يادول) | المجادلة(يودبله جګړه كول) |
| المخاطبة(يودبله خبري كول) | المشاورة(يودبله مشوره كول) | المعاهدة(يودبله وعده كول) |

**۵. تفاعلٌ مثال لكه:** تَضارُبُ: **يعني: يودبله دپر سره وهل.**

**د دې باب علامه داده: چې د دې باب ماضي پنځه حروف لري ، درې اصلي اودوه زائد وي يعني:**

- **د " فا " كلمې ځخه مخكې يې په ټوله باب كى " تا " زائده وي .**
- **او د " فا " او " عين " كلمې په مابين كې يې الف زائده وي ،ماسوا د ماضي مجهوله ځخه .**
- **او مضارع يې مفتوح العين وي.**

**صرف صغير يې دادى:** تَقَابَلَ يَتَقَابَلُ تَقَابُلًا فَهُوَ مُتَقَابِلٌ، وَتُقُوبِلَ يُتَقَابَلُ تَقَابُلًا فَـذَاكَ مُتَقَـابَلٌ، لَمْ يَتَقَابَلْ لَمْ يُتَقَابَلْ، لَا يَتَقَابَلُ لَا يُتَقَابَلُ، لَنْ يَتَقَابَلَ لَنْ يُتَقَابَلَ، الْأَمْرُ مِنْـهُ تَقَـابَلْ لتُتقابل، لِيَتَقَابَلْ، لِيُتَقَابَلْ، وَالنَّهْىُ عَنْهُ لَا تَتَقَابَلْ، لَا تُتَقَابَلْ لَا يَتَقَابَلْ، لَا يُتَقَابَلْ، وَالظَّرْفُ مِنْهُ مُتَقَابَلٌ، مُتَقَابَلَانِ، مُتَقَابَلَاتٌ.

## د «تفاعُل» دباب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| التخافت(يودبله پټې خبري سره كول) | التفاخر(يودبله فخر كول) | التعارف(يدبله پېژندل) |
| التسامح(يودبله نرمي كول) | التكاثر(يودبله ډېروالى سره كول) | التباعد(يودبله ليري كېدل) |

## قــــاعــــــــدة :

**محترمو طالبانو! دغه يو څوفائدې ښه ياد ساتئ!!!.**

- هغه بابونه چي دماضي په شروع کي «تا» زائده لري، په هغه کي مضارع مفتوح العين وي .
- او هغه بابونه چي دماضي په شروع کي همزه ولري، عامه خبره ده كه وصلي وي او كه قطعي ، په هغه کي مضارع مكسور العين راځي.
- فائدة: سوال: په «اِحْمَرَّ يَحْمَرُّ» کي ولي دغه قاعدة نه ده جاري سوې، دلته خو په فعل مضارع کي عين كلمه مكسوره نه ده؟همدارنګه په «اِحْمَارَّ يَحْمَارُّ» ولي دغه قاعدة نه ده جاري سوي.
- جواب: د دغه پورته قاعدې څخه دغه دوه بابونه مستثناء(ځانګړي) دي، يعني: دغه قاعدة په دغه دوو بابونو کي نه جاري کيږي.
- او هغه بابونه چي ماضي يې څلور حروف ولري، په هغيو کي خو ، حرف مضارعت مضموم وي ، د دغه سره سره يې مضارع مكسور العين هم وي.
- فائدة: دلازم بابونو مجهول صيغې نه سي راتلای، البته كه د كوم لازم باب سره چي راغلې وي دهغه دمجهول او اسم مفعول دصيغو سره دخپلو صيغو مطابق ضميرونه لكه: د شَرُفَ په باب کي چي ذكر سوي دي زيات کړئ.
- فائدة: څلور بابونه لكه: فَعُلَ يَفْعُلُ او انفعال او افعلال او افعيلال هميشه لازم وي د دې څخه ماسيوا نور بابونه متعدي او لازم دواړه استعمالېدلای سي.

## فـــائـــــــدة:

**د ثُلاثي مزيد فيه، په بابونو کي يو بل تقسيم هم کيدای سي، هغه دارکم چي د ثُلاثي مزيد فيه بابونه پر درې(۳) قسمه دي.**

**۱-هغه چي يو حرف پکښــي زائد وي،يعني: ماضــي معلومه يې څلور حروف ولري، دغه درې بابونه دي.**

**۱. افعال.**

**۲.مفاعلة.**

**۳. تفعيل.**

**۲-هغه چي دوه حروف پکښــي زائد وي،يعني: ماضــي معلومه يې پنځه حروف ولري، دغه بيا پنځه (۵)بابونه دي.**

**۱. انفعال.**

**۲.افتعال.**

**۳. افعلال.**

**۴. تفعّل.**

**۵.تفاعل.**

**۳-هغه چي درې (۳) حروف پکښي زائد وي، يعني: ماضي معلومه يې شپږ حروف ولري، دغه بيا څلور بابونه دي.**

**۱. استفعال.**

**۲.افعيعال.**

**۳. اِفعِوّال.**

۴. اِفعِيلال.

## درباعـــي مجرد بحـــث.

مخكي مو وويل چي درباعي مجردو، صِرف يو باب دى ، هغه لكه : فَعلَلَةٌ مثال لكه: بَعثَرَةٌ(ترجمه: خورول يا بي نظمه كول).

په دې كي نور تقسيمونه نه جوړيږي .

د دې باب علامه داده :چي د دې باب په ماضي كي څلور حروف وي او هغه ټول اصلي وي.

او د دې باب بله علامه داده چي په مضارع كي يې حروف اتين (أ،ت،ى،ن) مضموم (پيښوالا) وي.

د دې باب مصــدر خو د فَعلَلَةٌ پر وزن راځي، خو كله كله پر وزن د فِعلاَلٌ هم راځي لكه : زِلزَالُ، او كله كله بيا د «فَعلَلى» پر وزن راځي لكه: قَهقَرىٰ.

او دغه باب هم لازم اومتعدي دواړه مستعمليږي .

صرف صغير يې دادى: بَعْثَرَ يُبَعْثِرُ بَعْثَرَةً فَهُوَ مُبَعْثِرٌ، وَبُعْثِرَ يُبَعْثَرُ بَعْثَرَةً فَذَاكَ مُبَعْثَرٌ، لَمْ يُبَعْثِرْ لَمْ يُبَعْثَرْ، لَا يُبَعْثِرُ لَا يُبَعْثَرُ، لَنْ يُبَعْثِرَ لَنْ يُبَعْثَرَ، الْأَمْرُ مِنْـهُ بَعْثِرْ، لِتُبعثرْ،لِيُبَعْثِرْ، لِيُبَعْثَرْ، وَالنَّهْىُ عَنْهُ لَا تُبَعْثِرْ، لَا تُبَعْثَرْ لَا يُبَعْثِرْ، لَا يُبَعْثَرْ، وَالظَّرْفُ مِنْهُ مُبَعْثَرٌ، مُبَعْثَرَانِ، مُبَعْثَرَاتٌ.

د «فعللة» د باب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| الدحرجة(لغړول) | العسکرة(لښکرتیارول) | القنطرة(پل جوړول) |

**سؤال:** د اِفعَال، تَفعِیل او مُفَاعَلِې د باب ماضي هم څلور حروف لري، لکه: اَکرَمَ ،صَرَّفَ او ضَارَبَ ،او د فَعْلَلَةٌ د باب ماضي هم څلور حروف لري، لکه: دَحرَجَ ،او موږ وهغه اول درو بابونو ته ثلاثي مزید فیه بابونه وایو، او دغه څلورم باب ته رباعي مجرد باب وایو، د دوی په مابین کي څه فرق دی.

**جواب:** د دوی په مابین کي فرق دا دی، چي د فَعْلَلَةٌ په باب کي څلور حروف دي، او هغه څلور سره اصلي دي، او په هغه نورو درو بابونو کي، څلور حروف دي، خو درې اصلي او یو زائد دی، نو ځکه موږ و هغه درو بابونو ته ثلاثي مزید فیه بابونه وایو او هغه څلورم باب ته، رباعي مجرد وایو.

# درباعي مزید فیه بحث

مخکي مو وویل چي درباعي مزید فیه درې (۳) بابونه دي ، دغه بیا پر دوه قسمه دي.

اول: چي همزه وصلیه یې دباب په سر کي وي.

دویم : چي همزه یې وصلیه یې دباب په سر کي نه وي .

هغه بابونه چي همزه وصلیه یې دباب په سر کي وي هغه دوه(۲) بابونه دي

- اِفعنلال مثال لکه: الاِبرِنشَاق. –خوشحاله کیدل.

د دې باب علامه داده: چي د دې باب په ماضي کي شپږ حروف وي ، څلور اصلي او دوه زائد وي یعني:

- ده ماضي او امر حاضر په شروع کي یې همزه وصلي وي.
- او تر ”عين“ کلمې وروسته یې دباب په ټولو صیغو کي ”نون“ زائده وي.

او دا باب لازم دی ، خو کله کله متعدي مستعمليږي.

**صرف صغير یې دادی**: اِبْرَنْشَقَ يَبْرَنْشِقُ اِبْرِنْشَاقًا فَهُوَ مُبْرَنْشِقٌ، وَاُبْرُنْشِقَ يُبْرَنْشَقُ اِبْرِنْشَاقًا فَذَاک مُبْرَنْشَقٌ، لَمْ يَبْرَنْشِقْ لَمْ يُبْرَنْشَقْ، لَا يَبْرَنْشِقُ لَا يُبْرَنْشَقُ، لَنْ يَبْرَنْشِقَ لَنْ يُبْرَنْشَقَ، الْأَمْرُ مِنْهُ اِبْرَنْشِقْ،لِتُبرنشق، لِيَبْرَنْشِقْ، لِيُبْرَنْشَقْ، وَالنَّهْىُ عَنْهُ لَا تَبْرَنْشِقْ، لَا تُبْرَنْشَقْ لَا يَبْرَنْشِقْ، لَا يُبْرَنْشَقْ، وَالظَّرْفُ مِنْهُ مُبْرَنْشَقٌ، مُبْرَنْشَقَانِ، مُبْرَنْشَقَاتٌ.

د «افعنلال» دباب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| الاِحْرَنْجام:سره راټولېدل، یوځای کېدل. | الابلنداح(دځای خلاصېدل) | الاعرنکاس(وربښتیان) |

➢ اِفعلاّل مثال لکه: اَلاقشِعرَارُ: دبدن وربښتان درېدل.

د دې باب علامه داده : چي د دې باب په ماضي کي شپږ حروف وي څلور اصلي او دوه زائد وي يعني :

- د ماضي او امر حاضر په شروع کي یې همزه وصلي وي.
- او دوهم حرف زائده یې دلام کلمې دجنس څخه وي .

او داباب لازم دی، خو کله کله متعدي مستعمليږي.او ددغه باب مصدر کله کله پر وزن د فُعاليلة هم رائي لکه «طُمانينة» .

**صرف صغير يې دادی:** اِقْشَعَرَّ يَقْشَعِرُّ اِقْشِعْرَارًا فَهُوَ مُقْشَعِرٌّ، وَاُقْشُعِرَّ يُقْشَعَرُّ اِقْشِعْرَارًا فَذَاكَ مُقْشَعَرٌّ، لَمْ يَقْشَعِرَّ لَمْ يُقْشَعَرَّ، لَا يَقْشَعِرُّ لَا يُقْشَعَرُّ، لَنْ يَقْشَعِرَّ لَنْ يُقْشَعَرَّ، الْأَمْرُ مِنْهُ اِقْشَعِرَّ،لِتُقشعَرَّ ،لِيَقْشَعِرَّ، لِيُقْشَعَرَّ، وَالنَّهْيُ عَنْهُ لَا تَقْشَعِرَّ، لَا تُقْشَعَرَّ، لَا يَقْشَعِرَّ، لَا يُقْشَعَرَّ، وَالظَّرْفُ مِنْهُ مُقْشَعَرٌّ، مُقْشَعَرَّانِ، مُقْشَعَرَّاتٌ.

**سؤال:** كوم وخت چې په دې باب كې درې (۳) لامونه دي، نو معلومه سوه چې دا باب خماسي دی ، ځكه چې دغه درې لامونه خو، د خماسي علامه ده، نه د ثُلاثي مزيد فيه او رباعي.

**جواب:** درې لامونه د خماسي علامه هغه وخت ده، چې دغه درې لامونه د اصلي كلمې څخه وي ، دلته په دې باب كي دريم لام زائد دی ، ځكه د "اقشعرار" وزن په اصل كې" افعِللار"و ، مګر د حروف زائده د اول قسم د حكم په اساس يې وزن افعلّال راوستل سو ، ځكه چې زائده راء د خپل ماقبل د جنس څخه ده.

د «افعلّال» د باب نور مصدرونه.

| | | |
|---|---|---|
| الاقمطرار(ټاټكي كېدل) | الاشمخرار (اوږديدل) | الاشفترار(پاش پاش كېدل) |

او هغه بابونه چې همزه وصليه يې د باب په سر كې نه وي هغه يو (۱) باب دی، او هغه هم ډيری وخت لازم باب وي، خو كله كله متعدي مستعمليږي.

**مثال لكه تفَعلُلُ مثال لكه:** التَسَربُلُ – **جامې اغوستل.**

د دې باب علامه داده : چې د دې باب په ماضي كې پنځه حروف وي څلور اصلي يو زائد ، يعني:

❖ دباب د ماضي په شروع کي «تا» زائده مطرده وي.
❖ او دواړه لامونه يې د اصلي کلمې څخه وي .

**صرف صغير يې دادی:** تَسَرْبَلَ يَتَسَرْبَلُ تَسَرْبُلًا فَهُوَ مُتَسَرْبِلٌ، وَتُسُرْبِلَ يُتَسَرْبَلُ تَسَرْبُلًا فَذَاكَ مُتَسَرْبَلٌ، لَمْ يَتَسَرْبَلْ لَمْ يُتَسَرْبَلْ، لَا يَتَسَرْبَلُ لَا يُتَسَرْبَلُ، لَنْ يَتَسَرْبَلَ لَنْ يُتَسَرْبَلَ، الْأَمْرُ مِنْهُ تَسَرْبَلْ،لِتُتسربل، لِيَتَسَرْبل، لِيُتَسَرْبَلْ، وَالنَّهْىُ عَنْهُ لَا تَتَسَرْبَلْ، لَا تُتَسَرْبَلْ، لَا يَتَسَرْبَلْ، لَا يُتَسَرْبَلْ، وَالظَّرْفُ مِنْهُ مُتَسَرْبَلٌ، مُتَسَرْبَلَانِ، مُتَسَرْبَلَاتٌ.

**د «تفعلل» دباب نور مصدرونه.**

| | | |
|---|---|---|
| التبرقع(بوغره كول) | التبختر(په نازتلل) | التزندق(زنديق کېدل) |

# ملحق بابونه:

**الحاق :** د لحق څخه مشتق دی،دا د اسم مصدر صيغه ده، په لغت کي يوځای کولو (ميلاولو) ته ويل کيږي،او په اصطلاح کي :دېته ويل کيږي ،چي په يوه کلمه کي يو يا دوه حروف غير قياسي زيات کړل سي،د دې لپاره چي دغه کلمه دبلي کلمې سره هم‌وزن سي.يعني: د دواړو وزن يو رنګه سي.

**دالحاق ارکان درې دي.**

**١. ملحَق.**
**٢.ملحَق به.**

## ۳. لحوق.

**ملحَق:** هغه کلمې ته ویل کیږي،چې دبلې کلمې سره د دهم وزن کولو لپاره،پکښې یو یا دیوه څخه زیات الفاظ زیات سي.

**ملحَق به:** هغه کلمې ته ویل کیږي،چې د دغه کلمې سره بل کلمه ملحَق سي،یعني: ملحَق به اصل او ملحق یې فرعه ده.

**لحوق:** دیوې کلمې د بلې کلمې سره دهم وزن کولو لپاره چې کوم عمل کیږي،دغه ته لحوق وایي.

**مثال لکه:** جَلْبَبَ پر وزن د دَحْرَجَ ،په دې مثال کې جَلْبَبَ ملحَق دی او دَحْرَجَ ملحق به دی او دغه عمل لحوق دی.

**د ملحَق باب تعریف:** ملحَق د اسم مفعول صیغه ده،په لغت کې میلاو سوي یا رسول سوي ته ویل کیږي،او په اصطلاح کې ملحَق د ثلاثي مزید فیه وهغه بابونو ته ویل کیږي،چې دیو حرف یا دیوه څخه دزیاتو حروفو دزیادت په وجه د رباعي بابونو سره هم وزن سي.

**شرائط:** د ثلاثي مزید فیه بابونه چې د رباعي د بابونو سره په لاندې څلورو شرطونو سره ملحق کیږي.

اول: په ثلاثي مزید فیه بابونو کې،چې کوم زیادت راغلی وي،دغه زیادت به غیر قیاسي وي.

دویم: دملحَق به باب ټول خاصیات به ،په ملحق باب کې موجود وي.

دریم: په ملحَق باب کې به، دملحق به باب دخاصیات څخه ماسیوا نور خاصیات موجود نه وي.

څلورم: د ملحَق به باب او د ملحق باب مصدر به، په وزن کې سره یو رنګه وي.

پنځم: د ملحق به ، او ملحق په معنی کې به خامخا فرق وي .

مثال لکه: جَلْبَبَ دا په اصل کې جَلَبَ وو، چې څه وخت صرفیانو په دغه صیغه کې، دویمه باء غیر قیاسي زیاته کړه، نوداد دَحْرَجَ سره هم وزن سوه، اوس چې دغه د دَحْرَجَ دباب لپاره کوم خاصیات دي، دغه ټول خاصیات د جَلْبَبَ دباب لپاره هم لازم سوه، او په جَلْبَبَ کې به بله کومه نوې خاصه هم نه راځي، او د دغه دواړو صیغو مصدرونه به هم یو ډول وي.

## دالحاق یو څوضروري قاعدې.

۱. د الف زیادت د الحاق لپاره، په مابین د کلمې کې، نه کیږي، عامه خبره هغه که په اسم کې وي او که په فعل کې وي، اما په دآخر د کلمې کې بیا دغه زیادت د الحاق لپاره کیږي، لکه: په «تغافل» کې، دلته د دغه الف زیادت د الحاق لپاره نه بلل کیږي، ځکه د کلمې په مابین کې راغلی دی.

۲. که په ملحق کلمه کې دوه حرفونه دیوه جنسه راسي، په دغه دوو حروفو کې ادغام نه سره کیږي، ځکه که دغه ادغام وسي بیا د الحاق غرض باطلیږي، لکه: په جلبب کې.

۳. که په ملحق صیغه کي، حرف علت راغلی وو، دغه حرف علته به ګورو، که په مابین د کلمې کي واقع سوی وو، بیا اعلال نه پکښي کیږي، لکه: په «جَهورَ» کي دلته اوس دغه واو زیات سوی دی، د پاره د دې چي په « دحرج » په سي ملحق سي، په دغه واو کي اوس اعلال نه کیږي، ځکه که اعلال وسي بیا الحاق باطلیږي.

او که په اخر د کلمې کي واقع سوی وو، بیا اعلال پکښي کیږي، لکه: په «قَلْسی» کي، دغه قَلْسَی په اصل کي قَلْسَوُ وو بیا واو په یاء بدل سو، او یاء بیا الف بدله سوه نو قَلْسَیُ ور څخه جوړ سو، دلته ځکه اعلال کیږي، چي په دغه اعلال سره الحاق نه باطلیږي.

۴. هرهغه حرف چي دیو مستقلي معنی لپاره زیا تیږي، هغه حرف د الحاق لپاره زائد نه سي بلل کېدلای، لکه: «تاء» په تجلبب کي، دغه تاء اوس دلته دالحاق لپاره نه سي بلل کېدلای ځکه دغه دلته د مستقلي معنی لپاره زیاته سوي ده، چي هغه مطاوعت درباعي مجردو دی، لکه: عرب وایي « جلببته فجلبب» دلته دغه تاء دالحاق لپاره نه ده زیاته سوي، بلکي دغه دویمه باء دالحاق لپاره زیاته سوي ده.

۵. د کلمې په اول سر کي حرف د الحاق لپاره زائد نه سي بلل کېدلای، بلکي که کوم حرف د الحاق لپاره زیا تیږي، هغه به خامخا یا په مابین کي او یا په آخر د کلمې کي وي، لکه: تاء د «تمسکن» او «ترهوک». دغه تاء دلته اوس د الحاق لپاره نه سي بلل کېدلای.

د ثُلاثي مزید فیه ملحق بابونه په رباعي بابونو پوري دوه قسمه دي.

**اول: ملحق په رباعي مجردو پوري.**

**دویم: ملحق په رباعي مزید فیه پوري.**

**په رباعي مجردو پوري او وه (۷) بابونه ملحق دي.**

**❖ فَعلَلَةٌ مثال لکه: جَلبَبَةٌ.(څادر پورته کول).**

**ددې باب علامه داده ، چې په ماضي کې به یې څلور حروف وي،درې اصلي او یو زائد وي او د «لام» کلمه یې مکرر وي**

**❖ فَعَنلَةٌ مثال لکه: قَلَنسَةٌ.(خولۍ په سر کول).**

**د دې باب علامه داده چې په ماضي کې به یې څلور حروف وي،درې اصلي او یو زائد وي یعني: د «عین» کلمې څخه وروسته یې «نون» زائد وي .**

**❖ فَوعَلَةٌ مثال لکه: جَورَبَة.(جورابې په پښه کول).د دې باب علامة داده،چې د «فا» کلمې څخه وروسته یې واو زائد وي.**

**❖ فَعوَلَةٌ مثال لکه: سَروَلَةٌ.(پایزار اغوستل).د دې باب علامة داده، چې په ماضي کې به یې څلور حروف وي،درې اصلي او یو زائد وي او د «عین» کلمې څخه وروسته واو زائد وي.**

**❖ فَیعَلَةٌ مثال لکه: صَیطَرَةٌ (مقرر کیدل).د دې باب علامة داده چې په ماضي کې به یې څلور حروف وي،درې اصلي او یو زائد وي یعني: د «فا» کلمې څخه وروسته یې یا زائد وي.**

**❖ فَعیَلَةٌ مثال لکه: شَریَفَةٌ.(په کښت کې غیر ضروري واښه پریکول). د دې باب علامة چې په ماضي کې به یې څلور حروف وي،درې اصلي او یو زائد وي یعني: د «عین» کلمې څخه وروسته یې واو یا یا زائد وي.**

❖ فَعلاةٌ مثال لکه: قَلسَـاةٌ.(خولی پورته کول).ددې باب علامة داده، چې په ماضـي کې به يې ځلور حروف وي،درې اصـلي او يو زائد وي يعني: لام کلمې ځخه وروسته يې يا زائد وي.

د ثُلاثي مزيدفيه هغه بابونه چې په رباعي مزيدفيه وپسې ملحق دي،ځکه چې په وزن کې دغه بابونه درباعي مزيد فيه دبابونو سره برابر او مسـاوي دي هغه بيا پر (۳) قسمه دي.

ملحق په باب د «تَدَحرَج » پوري .

ملحق په باب د «اِحرَنجَم» پوري .

ملحق په باب د «اِقشَعرّ» پوري .

ملحق په باب «تَدَحرَج » پوري ،وه (۸) بابونه دي .

❖ تفَعلُلٌ مثال لکه: تجَلبُب .(ځادرپورته کول ).
❖ تَفَعنُلُ مثال لکه: تقَلنُسٌ.(خولی په سر کول).
❖ تَفَوعُل مثال لکه: تَجَورُبٌ.(جورابې په پښه کول).
❖ تَفَعوُلُ مثال لکه: تَسَروُلُ .(پایزار اغوستل).
❖ تَفَيعُلٌ مثال لکه: تَشَيطُنُ .(شيطان کيدل).
❖ تفَعلُت مثال لکه: تَفَعرُت (خبيث کيدل). .
❖ تَفَعلِ مثال لکه: تَقَلسٍ.(خولی په سر کول).
❖ تَمَفعُلُ مثال لکه : تَمَسکُنُ (مسکين کيدل).

ملحق په باب د اِحرَنجَم پوري دوه (۲) بابونه دي.

✓ افعنلال مثال لکه: اقعنساس.(خلاصي تنې تلل).
✓ اَفعَنلاءُ مال لکه: اِسلِنقاءُ .(پرشا پريوتل).(ستونيستخت پرېوتل).

ملحق په باب د «اِفعلال» پوري (۱)باب دی.

۱-اِفوِعلال مثال لکه:اِکوِهداد ( کوشش کول).

**تنبیه:** په ځيني کتابونو کي څه هم د دغه ملحق بابونو په ترتيب او عدد کي څه ناڅه فرق سته،خو موږ د اکثرو صرفيانو يا ټولو صرفيانو يا هغه د ټولو اقوالو خلاصه دلته ذکر کړې ده.

# دبابونو معنوي علامې.

اوس موږ يو څو معنوي علاماتي دبابونولپاره راوړو، دغه علامات که څه هم د اتبدائي طالبانو لپاره ګران کار دی ، ځکه دهغه به سر نه په خلاصيږي ، خو د دغه علامات زده کول هم ډير ضروري کار بولم او دهر طالب العلم لپاره دا حتمي او لازم بولم چي دغه شيان بايد په ذهن کي ونيسي ، دهغه لفظي علامات سره سره داهم په ذهن کي نيسي چي دبابونو لپاره معنوي علامات هم سته دي.

۱- دلون او عيب ،خوشحالی او غم دحليې او ښائست دمعانيو دپاره اکثر د "سَمِعَ" باب استعماليږي.

۲ . صفات خلقيه طبعيه حقيقيه لکه (حسن) ،يا خلقيه طبعيه حکميه لکه : (فقاهت) ، يا دخلقيه طبعيه مشابه لکه : (جنايت) دا ټوله د "کَرَمَ "دبابه څخه راځي .

۳ . د "فَعِيلٌ" پروزن دصفت صيغه اکثر د "سَمِعَ" او "کَرَمَ" څخه راځي.

۴. د "کَرُمَ" باب همېشه لازم وي .

۵. مهموز الفاء اکثر د "نَصَرَ" څځه راځي ،لکه اَکَلَ ، ياکُلُ ، اَکَلا .

۶ . مهموز العين اکثر د "فَتَحَ" "سَمِعَ" "کَرُمَ" څخه راځي ، او د "نَصَرَ" او "ضَرَبَ" څخه اقل راځي، لکه : سَئَلَ يَسئَلَ سُؤَالا ، سَئِمَ يَسئَمُ سَئَماً ، لَؤُمَ يَلُومُ لُؤماً .

۷ . مهموز اللام اکثر د "فَتَحَ" "سَمِعَ" "کَرُمَ" څخه راځي ، او د "نَصَرَ" او "ضَرَبَ" څخه اقل راځي لکه: قَرَاَ يَقرَاَ قِرَائَةٌ ، بَرِءَ يَبرَءُ بَرائةٌ، جَرُءَ يَجرُءُ جُرئَةٌ.

۸ . مثال واوي د "نَصَرَ" څخه بالکل نه راځي د "ضَرَبَ" "فَتَحَ" "سَمِعَ" "کَرُمَ" څخه او يو قدر د "حَسِبَ" څخه راځي ، لکه يَسَرَ يَيسِرُ يُسراً ، يَبِسَ يَيبُسُ يُبساً ، يَنَعَ يَينَعُ يُنعاً .

۱۰ . اجوف صرف د دروبابو اصولو څخه راتلای سي ، اَماطَالَ يَطُولُ فَمُختَلفٌ فِيهِ.

۱۱ . اجوف واوي اکثر د "نَصَرَ" او "سَمِعَ" څخه راځي ، اقل د "ضَرَبَ" څخه راځي ، لکه قَالَ يَقُولُ قَولاً ، خَافَ يَخَافُ خَوفاً ، طَاحَ يَطِيحُ طَيحاً .

۱۲ . اجوف يايي د "نَصَرَ" څخه بالکل نه راځي اکثر د "ضَرَبَ" څخه راځي ، لکه "سَمِعَ" څخه هم اقل راتلای سي ،لکه :بَاعَ يَبِيعُ بَيعاً ، شَاءَ يَشَاءُ مَشِيَة.

۱۳ . ناقص واوي د "ضَرَبَ" څخه بالکل نه راځي ، اکثر د "نَصَرَ" څخه او يو څه قدر د "سَمِعَ" څخه او نورو بابو څخه ،لکه :دَعَا يَدعُو دَعوَةً ، رَضِيَ يَرضه رِضوَاناً.

۱۴ . ناقص يايي د "نَصَرَ" او "کَرُمَ" څخه نه راځي که راغلئ هغه شاذ دئ ، او اکثر د "ضَرَبَ" او "سَمِعَ" څخه راځي ، او اقل د "حَسِبَ" څخه هم راتلای سي . لکه : رَمَى يَرمِي رَميًا ، خَشِيَ يَخشَى خَشيَةً.

۱۵ . لفيف مفروق صرف دوه بابو نه راځي "ضَرَبَ" "حَسِبَ" "سَمِعَ" لکه :وقى يَقِي وِقَايَةً، وَحِيَ يَوحى وَحيًا وَلِيَ يَلِي وَلِيًا ، (از صرف مير)

۱۶ . لفيف مقرون صرف دوه بابو نه راتلای سي ، "ضَرَبَ" "ضَرَبَ" "لکه: طوى يَطوِي طيًا (پېچل) طَوِيَ يَطوى طَيًّا ( وږى کېدل).

۱۷ . مهموزالفاء او اجوف واوي اکثر د "نَصَرَ" څخه راځي ، او د "سَمِعَ" څخه اقل راځي . لکه اَلَ يَاولُ اَولاً ، اَوِدَ يَؤدُ اَوَاداً.

۱۸ . مهموزالفاء او اجوف يايي اکثر د "ضَرَبَ" څخه او د "سَمِعَ" څخه اقل لکه : اَدَ يَيِدُ اَيداً ، اَسَ يَاسُ اَيَاساً.

۱۹ . مهوزالفاء ناقص واوي اکثر د "نَصَرَ" څخه راځي ، لکه اَلَا يَالُ اَلواً.

۲۰ .مهموزالفاء ناقص واوي اکثر د "نَصَرَ" ثخه راځي ، او د "سَمِعَ" ثخه اقل او د "فَتَحَ" ثخه شاذ راځي ،لکه :اتی یاتِی اِتیانًا ، اَسِی یَاسَی ، اَبی یَابی اَبَاءُ.

۲۱ . مهموزالعين او مثال واوي اکثر د "ضَرَبَ" ثخه راځي او د "سَمِعَ" ثخه اقل راځي ،لکه :وَأَدَيَدُ وَاداً ، وَئِبَ یوئَبُ وَئبًا.

۲۲ . مهموزالعين مثال يايي : "سَمِعَ" او "حَسِبَ" ثخه راځي ،لکه : يَئِسَ يَيئَسُ يَئسًا.

۲۳ . مهموزالعين ناقص واوي د "نَصَرَ" او " فَتَحَ " ثخه راځي ، لکه :سَئَا يَسؤًا ، دَئَا يَدئی دَايًا.

۲۴ . مهموزالعين او ناقص يايي ،اکثر د "فَتَحَ" ثخه راځي ، او د "ضَرَبَ" ثخه اقل راځي ، لکه : رَئی يَرَی رُؤيَةً، صَئَا يَصئِی، صِئاً.

۲۵ . مهموزاللام او اجوف واوي اکثر د "نَصَرَ" او " فَتَحَ " ثخه راځي ، او دنورو بابو ثخه اقل راځي ، لکه : بَاءَ يَبُوءُ بَوئاً دَاءَ يَدَاءُ دَوئًا.

۲۶ . مهموزاللام اجوف يايي اکثر د "ضَرَبَ" ثخه اقل راځي ، لکه : جَاءَ يَجِيءُ مَجِيئًا ،شَاءَ يَشَاءُ مَشِيئَةً.

۲۷ . مضاعف ازسه باب اصول می آید فقط. و اَمّاحَبَّ فَهُوَ حَبِيبٌ (کرم) وَلَبَّ فَهُوَ لَبِيبٌ(کرم) من الشواذ.(نورمحمدمدقق)

۲۸ . مهموزالفاء اومضاعف ثلاثي اکثر د "نَصَرَ" ثخه راځي ، او د " ضَرَبَ" او "سَمِعَ" ثخه اقل راځي ، لکه :اَمَّ يَئُمُّ اَمًّا ، اَنَّ يَئِنُّ اَنًّا ، اَلَّ يَالُّ اَلًّا.

۲۹ . مثال واوي او مضاعف ثلاثي د "سَمِعَ" ثخه رائحي ، لكه :وَدَّيَوَدُّ وَدًّا.

۳۰ . مثال يايي او مضاعف ثلاثي هم فقط د "سَمِعَ" ثخه رائحئ، لكه يَمَّ يَيَمُّ يَمًّا.

تَمّت بالخير.

## د مولف نور علمي اثار:

## د مفتي خادم احمد «سعيد» په قلم ليكل سوي علمي أثار.

**أصول الحديث:**

۱-الخير الأكبر في مباحث الحديث المرسل. -مكمل. عربي .غيرمطبوع.

۲-التعارض والترجيحات بين الأحاديث المتعارضة. -مكمل. عربي. غيرمطبوع.

۳-الفوائد الضرورية للإجراء في علوم الحديث، (ايا په اصول الحديث كي اجراء كولاى سئ).مكمل. پښتو او عربي. غيرمطبوع.

۴-تعليق على تيسير مصطلح الحديث -مكمل. عربي . غيرمطبوع.

۵-الاهتداء في تحقيق كتابة النساء. عربي. مطبوع.

۶-الترغيب الى الترحيب. -مكمل. عربي . غيرمطبوع.

**فقه:**

۱-الفتاوى الخادمية -۷ جلده- غير مكمل. پښتو ،مطبوع.

۲-خير المقال في مسائل روية الهلال- مكمل. عربي. غيرمطبوع.

۳-الطالع في اختلاف المطالع. -مكمل. عربي. غيرمطبوع.

۴-خير البشارة في أحكام الإشارة بالسبابة .-مكمل. عربي. غيرمطبوع.

٥-خير الكلام في اللــهم انت السلام .-مكمل. عربي (مطبوع).

٦-خير المآل في مسألة التعزير بالمال .-مكمل. عربي. غيرمطبوع.

٧-خَير الهِمّة فِي سُنية التهنئة و بِدعيّة الُمصافحة والُمعانقة ا لُمروّجة بَعدصلوةِ العيدَين وصَلوة الجُمعَة وصَلَوات الخَمسَة .-مكمل. عربي . غيرمطبوع.

٨-دېودې څخه مخکي او وروسته دمالګي څکل څه حکم لري. -مکمل. پښتو(مطبوع).

٩- دسهار لمانځه څخه وروسته خوب کول څه حکم لري ؟ -مکمل. پښتو(مطبوع).

١٠-الخَبَرإلى العشّاق في مسائل السِواک. - مكمل. عربي. غيرمطبوع.

١١- فضل المولىٰ في تحقيق نكاح يوسف وزليخا ( يوسف (عليه السلام ) او زليخا نكاح سره كړي ده او كنه؟).-مكمل. عربي (مطبوع).

١٢- خير الخبر في مباحث الوكيل المسخر-مكمل. عربي. غيرمطبوع.

١٣-الهداية في مسائل الأمرد واللواطة. غيرمطبوع.

**مختلف فنون:**

١-المقدِمة لِعلم المنطق. -مكمل. عربي .غيرمطبوع.

٢-الحاشية على ايساغوجي. -مكمل. عربي . غيرمطبوع.

٣- دسیفیانو په اړه مفصل بحث. -غير مكمل. پښتو . غيرمطبوع.

٤- الضوابط المشهورة في حل التراكيب العربية . غيرمطبوع.

٥-علامات الابواب. (مطبوع).

٦-الحاشية على تيسير المنطق .- پښتو . مكمل.(مطبوع).

٧-كامياب شاگرد. مطبوع.

٨-سعيد الصرف في تشريح ارشاد الصرف. مطبوع.

**۹-دحضرت خضر عليه السلام او حضرت موسی علیه السلام،دعلمي سفر څخه،د قرآن كريم او احاديثو په رڼاکي،دشاگرد او استاد لپاره (۸۰)آداب.مطبوع.**

**۱۰-** اَلتَّرَاكِيْبُ المُشْكِلَةُ مَعَ قَوَاعِدِالنَّحْوِيَةْ وَتَحْقِيْقِ الصَّرْفِيَةْ،مَشْتَمِلَةٌ عَلَى ثلاثمأة ثلاثة عشر تَرْكِيْبًا. **يعني:درې سوه ديارلس(۳۱۳) مشكل تركيبونه سره دصرفي تحقيقه.دكتاب په سركي د نحوي يوڅو ضروري قاعدې.(مطبوع).**

**۱۱-خاصيات الأبواب. (مطبوع).**

**۱۲-دطالب العلم لپاره يو څو ضروري فائدې. غيرمطبوع.**

**۱۳-فتح العناية في تشريح شرح الوقاية.**

**۱۴-سعيد النحو في تشريح نحومير.**

**۱۵-توضيح الأبواب.**

**۱۶-انجمن اونطاقي بايد څنگه وكړو!**

## مجموعة (۳۵).

## دليكوال سره د اړيكو شميرې:

**۰۷۰۶۹۸۰۷۵۸ او ۰۷۴۹۹۳۰۵۵۱**